


This work is licensed under a
Creative Commons Attribution 4.0
International License

**AL DALILI**

Bi-Annual, Multilingual (Arabic, Balochi, Brahui, English, Pashto, Persian, Urdu)

ISSN: 2788-4627 (Print), ISSN: 2788-4635 (online)

Project of **RAHATULQULOOB RESEARCH ACADEMY,**

Jamiat road, Khiljiabad, near Pak-Turk School, link Spini road, Quetta, Pakistan.

Website: www.aldalili.com

Approved by Higher Education Commission Pakistan

Indexing: » IRI (AIOU), Tahqeeqat, Euro pub, MIAR.

## TOPIC

# په پښتو ادب کي د روسي ژباړو ځای

# The place of Translations from Russian in Pashto Literature

***AUTHOR***

1. Dr. Muhammad Sadiq Zarak, Assistant Professor, Government Postgraduate College, Saryab road, Quetta, Pakistan.
   Email: sadiqzharak786@gmail.com

**How to Cite:** Dr. Muhammad Sadiq Zarak. (2024). PASHTO: په پښتو ادب کي د روسي ژباړو ځای: The place of Translations from Russian in Pashto Literature. *Al-Dalili*, *5*(2), 09–17. Retrieved from https://aldalili.com/index.php/dalili/article/view/130

*URL:* https://aldalili.com/index.php/dalili/article/view/130

Vol. 5, No.2 || January–June 2024 || PASHTO-Page. 09-17

Published online: 09-01-2024

# په پښتو ادب کې د روسي ژباړو ځای

# The place of Translations from Russian in Pashto Literature

محمد صادق ژړک

**ABSTRACT:**

The prime pivot of this treatise is those Russian literary works that have been translated from Russian into Pashto language. Though a reasonable number of Russian books and research papers have been translated into Pashto language but this treatise deals with just the three following books in this regard. 1: The Marrani Oluş Adbiat, 2: How the Steel was tempered, 3: War and peace.

**Keywords:** Russian literature, Pashto literature, translation.

په نړۍ کې يوه داسې ژبه نشته چې هغه دې و ژباړې ته اړتيا نه لري ځکه چې داسې ډېر خيالات و افکار شته چې په يوه ژبه کې ليکل شوي وي او په بله ژبه کې نه وي ليکل شوي بيا دهر ليکوال سوچ او فکر توپير سره لري ، دژبې بډايني لپار ه ژباړه يوه بهترينه وسيله ګڼل کيږي ، بله خبره داچې په نړۍ کې ډيرې ژبې ويل کيږي او په ډيرو ژبو کې ليکل کيږي،نو يو لوستونکي يا ليکوال نه شي کولای چې ټولې ژبې زده کړي او دنړۍ ليکل شوي اثار دې مطالعه کړي.نو د دغو مشکلاتو په پام کې نيولو سره سم نړيواله ټولنه په دې خبره يوه خوله ده چې ديوې ژبې هغه اثار چې بله ژبه اړتيا ورته لري بايد وژباړل شي. دنړۍ عالمان او پوهان پردې خبره هم يوه خوله دي چې ژباړه دهرې ژبې لپاره يوه ضروري عمل دی.

پښتو ژبه دیوه ژوندي قام ژوندۍ ژبه ده پښتو يو شمېر ويونکي او لوستونکي لري، له پېړيو پېړيو په دې ژبه کې ليک ولوست روان دی. له ډېره وخته په انفرادي او اجتماعي توګه ليکوال دخپلې ژبې د بډاينې لپاره په عملي توګه خپت (بوخت) دي او له خپل وس وتوان سره سم دژبې چوپړ وهي،په پښتو کې دژباړې لړۍ له ډيره وخته راروانه ده.په دې اړه د استاد هېوادمل په کتاب "پښتو ادبياتو تاريخ کې"داسې کاږي.

" د دريمې هجري پېړۍ په ترځ کې د بست د سروان دسيمې يو افغان چې ابوهاشم ابن الزيد اسرواني نومېده.عراق ته ولاړ او هلته يې د دې ځای له علماوو سره ناسته ولاړه درلوده ابن خلاد ( چې په ابي العيثا مشهورو) سره يې په بغداد کې ډېر عمرونه تېر کړل او له هغه نه يې عربي بلاغت او اشعار ولوستل ، ابو هاشم په ۲۲۳ه ق کال په سروان کې زوکړی و ، لومړنۍ زده کړې يې په خپله سيمه کې له علماوو څخه حاصلې کړې وې، بيا عراق ته تللی و په ۲۹۴ه ق کال بيرته خپل وطن ته راغی اوله راتګ نه درې کاله وروسته په ۲۹۷ه ق کال وفات شو.

دغه ابوهاشم دخپل استاد ابن خلاد يو عربي شعر په پښتو نظم ترجمه کړی دی.

چي دغه په پښتو ترجمه شوي نظم په لرغوني پښتانه کي راغلی دی او محمد هوتک له هغه کتاب په پټه خزانه کي راوړی دی"-[1]

د دغه نظم په اړه په پټه خزانه کي داسي وینو:

ژبه هم ښه وینا کاندي چي یې وینه
دخاوند په لاس کي زر او درهمونه
ژبه ور ورله ورځي وینا یې اروي
د درهم خاوندان تل وي په ویاړونه
که درهم یې ځني روک سو سي نتلی
په نړۍ یې وي خړو پېژندونه
که بډای سوښي وبولي خلک وایي
دا دنیا ده رشتیاینه له رشتونه
که بېوزلي و دا یې رشتیا خبره
نور و وایي دا خو سوښي دي تېرونه
هو درهم شندي هو چاله یو په برخه
ددرهم دخاوند هر ځای پر تمونه
د درهم ژبه ده که څوک ژبه ورکیږي
ده وسله که څوک په کاندي قتالونه [2]

دلومړۍ ژباړي په اړه استاد هېوادمل کاږي:

"ابومحمد هاشم دپښتو په ادبي تاریخ کي لومړی سړی دی، چي دیو عرب شاعر فکر یې پښتو ته ور انتقال کړی دی. دابومحمد هاشم نظم سره له دې چي له عربي ژبي څخه ترجمه شوی دی. مگر دپښتو ځینې هغه زاړه لغات او ترکیبونه لري. چي په دریمه پېړۍ کي په پښتو کي مستعمل وو او اوس یې ریښي په ژبه کي په بل ډول موجودي دي"-[3]

دا وو پښتو ژبي ته لومړنۍ ژباړي لنډ معلومات چي موږ ته له پټي خزانې څخه څرگندیږي خپلي سکالو(موضوع) ته راگرځم .

روسي د روسانو ژبه ده دسویت یونین په جوړیدو سره روسي ژبه د امو ترغاړي راورسیدله او دپښتو ژبي گاونډۍ ژبه وگرځېدله . نه یوازي ژبه یې گاونډۍ شوه بلکې د روسانو زموږ له خاوري سره خپلي گټي هم وتړل شوې تر دې نوربحث تېریږو اوس پر دې خبري کوو چي په پښتو ادب او تاریخ کي دروسي څخه راژباړل شوي اثار کوم ځای لري. دلته به یوازي د روسي ژبي څخه راژباړل شوي پردوو ۲ کتابونو

رښا اچوو چي زموږ ژبې ، ادب ، تاریخ او سیاست ته یې څومره ګټې رسولي دي وړاندي تر دې چي پر دغهو کتابونو خبري وکړو، لومړي باید وو یل شي چي دنړۍ پّر مخ تللو ژبو کې روسي هغه ژبه ده چې له پښتو او پښتنو سره ډېر نژدې والي لري. نژدې والي یې په دې کې دی لکه وړاندي چي مو وویل چي روسي له پښتو سره څنګ لورې ژبه ده بله دا چي د نورو ټولنو دلیکوالانو په پر تله روسانو دپښتو ژبي لپاره ډېر کارونه کړي دي، له پښتو ادب څخه که دروسي ژبې دلیکوالانو برخه منفي شي نو پښتو ادب به خپل یو لوی څپرکي له لاسه ورکړی وي. پر دغه اړخ که خبري کوو نو لیکنه به ډېره اوږده شي زه راځم هغو اثارو ته چي دخپلي پورته سکالو بحث یې ګرځوم .

1 - 	دمېړني اولس ادبیات
2 - 	پولاد څنګه کلکېده
3 - 	جګړه او سوله

هسي خوله روسي ژبې ګڼ شمېر اثار پښتو ته راژباړل شوي دي خو دلته ما یوازي پورتني کتابونه چڼ کړي دي ځکه چې پر ټولو یا ډیرو کتابونه باندې په یوه مقاله کې خبري نه شي کېدلای.

**1: د مېړني اولس ادبیات** ( دلرو پښتنو ادبیات)

دمېړني اولس ادبیات دروسي ژبي مشهور لیکوال ګ،ف ګیرس اثردی چي نوموړې په دغه کتاب کې دپښتو پرهغه خاوره په تفصیل کار کړی دی کومه خاوره چي دروس او برطانیې دترونونو په نتیجه کې له خپل وجود څخه بېله شوې ده.

د روسانو دغه نه جبرانېدونکې ناخواني چي زموږ له جغرافیې سره یې کړې ده، پر ځای یوه ګیله ده چي موږ یې له دوئ څخه لرو، که ددې تر څنګ یو اولسي راولاړېږي د دغي سیمي پر ټولو لتو ګرځي او ددغي سمیي باندي یوه ډېره په زړه پوري اثر کاږي چي ښایې دغه به هم دسیاسي غرض لپاره لیکل شوی وي خو دخپل غرض تر څنګ یې په دغه یوه اثر پښتو ادب اومره غني کړی دی چي د دې کتاب له حوالې پرته زموږ ادب نیمګړی دی، زموږ لپاره د دغه خاوري پر ادب اوسیاست باندې ترټولو معتبره حواله هم دغه " دمېړني اولس ادبیات" نومي کتاب دی،چي زموږ ډېر څه روښانه کوي ، دغه اثر که په دقیق ډول وکتل شي نو دا ورڅخه جوتیږي چي دغه اثر یه یوه خونه کې ناست تحقیق نه دی بلکې لیکوال دپښتونخوا پردغو لتو ګرځېدلی ، کړېدلی او دیو ستر زیار په نتیجه کې یې دغه اثر لیکلی دی. دکتاب دمولف په اړه دکتاب ژباړن سرمحقق محمد اکبر معتمد شنواری داسې لیکي:

"د دې کتاب دمولف پوره نوم ګیورکي فیودواو ویچ ګیرس دی دی د ۱۹۳۷کال د اکتوبر پر ۱۱ دمسکو دښار دیو دولتي مامور په کورکي وزیږېد ، دمنځني ښوونځي له پای ته رسولو نه وروسته په ۱۹۴۷کال دمسکو دختیځ پېژندني د انستتوت په پښتو څانګه کي شامل شو کله چي دی دمحصل و نو دپښتنون ولس له ادبیاتو سره یې ډېره مینه پیدا شوه"-4

ددې کتاب په اړه دکتاب ژباړن داسې معلومات راکوي:

په ۱۹۶۶کال دشوروي اتحاد دعلومو اکاډمي دختیځ پېژندنې د انسټیټوټ له خوا په مسکو کې یو کتاب خپور شو چې نوم یې دې. ( دمبارزې اولس ادبیات ) داکتاب لرې پښتونخوا ادبیات په دغو ادبیاتو کې استعماري او انګلیسي ضد غورځنګونه د آزادۍ لپاره دپښتنو هلې ځلې او دسرخپوشانو مجاهدې د دوی انقلابي څپې ، ددوی مشران او نشرات معرفي کوي.

کتاب،موادو له حیثه پوره غني او درواني پېړۍ دلومړیو څو لسیزو تنویري او انقلابي اشعارو دلوستونکي په واک کې ورکوي هم هغه ولسي اشعار په ګوته کوي چې په نولسمه پیړۍ کې دپښتنو او انګلیس جګړې په کې ترسیم شوې دي او دپښتنو مېړانه ، مقاومت او د آزادۍ غورځنګونه په کې له ورایه برېښي،کتاب په اړه پښتو ادبیاتو ته وقف شوی دی. اوپه تېره بیاهغو ادبیاتو ته چې دسرخپوشانو او خدائي خدمتګارانو ادبي فعالیت ګډل کیږي، مګر ضمناً سیاسي پېښې،دپښتني نړۍ واقعات د تاریخي زوانو معرفي د تاریخ او مامداره ځایونو ترسیم دپښتو د اوسني هنري نثر موسسین او د دوی خدمتونو اوځیني ضیاتي لنډې قیصې هم پکې راغلي دي.[5]

ددې کتاب تر نورو ځانګړنو تېرېږو یوازې دلته دوه درې لنډلنډ پیراګرفونه رانقل کوم چې دغه کتاب موږ په لومړي ځل څومره ژور معلومات راکوي: پښتون مجله په ۱۹۲۸کال کې دپاچاخان (عبدالغفارخان) له خواتاسیس شوه او تر ۱۹۴۷کاله پوري په میاشت کې یو ځل چاپېده خو مجلې دخپل ژوند په دغه موده کې درې وقفې لیدلي دي او د استعماري حکومت له خوا درې ځلې زولنې وراچول شوي دي،لومړی دامجله د اتمانزو په کلي کې چاپېدله بیاپه سردریاب کې پېښورکي نژدې نشرېدله ۱۹۳۰کال نه راپه دې خوا ( دخان عبدالغغار خان مرستیال مشهور اجتماعي شخصیت شاعر ډراماتور حکیم عبدالخالق خلیق (۱۸۹۵زوکړي) وټاکل شو دده په غاړه دمجلې ادارې او تخنکي چاري وې او د مجلې عمومي ایډیالوژي ، اهداف او هنري پرنسیپونه پخپله دخان عبدالغفارخان له خوا ټاکل کیدل.[6]

له دې پرته په دې کتاب کې دبلوچستان دپښتنو دلومړېنو سیاسي مبارزینو په باب د دغه کتاب مولف داسې معلومات موږ ته وړاندې کوي چې ترنومورې ، زما دمطالعې له مخي ترنومورې وړاندې بل لیکوال په دومره ښه توګه نه دي وړاندې کړي.

" درواني پیړۍ دشلمو او دیرشمو کلونو په حدودو کې په لاهور (بلوچستان دموصلینو اتحادیه) جوړه شوه . دغې اتحادیې ټول هغه شاګردان سره منظم کړل او په یوه مترقي فکر یې راټول کړل، چې په کالجونو مدرسو او مختلفو ښوونځیو کې په تحصیل بوخت وو. ددغې اتحادیې موسس او متکبر مشهور پښتون شخصیت محمد هاشم غلجی (۱۹۰۷زوکړی) و. ده په هاغو کلونو کې دلاهور په کالج کې خپل تحصیلات پای ته رسولي وو د اتحادیې تنوېري او مترقي فعالتونه د (پښتون جرګې) او نورو محلي وطنپالو سازمانو حمایت ځان ته حاصل کړی و".[7]

دبلوچستان دپښتني سیاسي مبارزینو په اړه په کتاب کي پر مخ داسي کاږي.

"خان عبدالصمد خان در واني پېړۍ په دیرشمو کلونو کي دتعلیم او پوهني په برخه کي دخپل ملګري او همکار محمد هاشم غلجي سره چي تازه خپل هېواد ته راستون شوی و او دبلوڅانو ملي انجمن یې تاسیس کړی و، مشورې کولې څو کاله وروسته دخان عبدالصمد خان په نظریاتو کي ښکاره انکشاف ، تکامل او پوخوالی راغي دې کار سره دوه هغو شخصي تماسونو مرسته کړې وه چي ده د خان عبدالغفار خان او دسرخپوشانو دنورو مشرانو سره ټینګ کړي وو او هم دصوبه سرحد او آزادو قبایلو آزادۍ دحرکت سره د ده اشنایي او دهغه ( ملي نهضت سره د ده معرفي په دې کار کي موثر وو. خان عبدالصمد خان هماغه لار طی کړه، چي خان عبدالغفار خان و او د آزادۍ د غورځنګ نور پیاوړي مشران پرې روان وو، دی دبرتانوي هند دمسلمانانو د ( پان اسلامیزم) پلوي هم و او دا اتفاقي نه وه، چي ده د اردو څخه په پښتو ،قران ترجمه (ترجمه القران) وکړه ، دې ترجمعې سره ګټوري تبصیرې هم وې چي ښخي یې ورځینو مسایلو سره اړخ لګاوه، ددغه تفسیر ژبه روانه او ادبي او په پښتني ټولنه کي یې ښه انعکاس پیدا کړ. د رواني پیړۍ ډیرشموکلونو په لړ کي خان عبدالصمد خان په ډېر اخلاص او خوشحالۍ سره دکانګرسیانو مفکوره عدم تشدد و منله، ده فکر کاوه چي د استعماري حکومت په شرایطو کي دتشدد نه ډکه مبارزه بې نتیجې ده، له همدې لامله ښایې چي ملت موږ د تشدد په فضاکي پوه او آزادۍ ته یې چمتو کړو او چي دا کار وشو راتلونکي مسایل پخپله حل کیږي.[8]

دا وو دمېړني اولس ادبیات لنډ عبارتونه چي دلته مو دغوني په ډول وړاندي کړل چي راور څخه جوتیږي چي دغه کتاب چي پښتو ته راژباړل شوی دی ، موږ او تاسي ته به په څومره ګټوروي موږ ویلای شو چي د دغه کتاب په لیکلو او بیا پښتو ته را ژباړل دپښتو لپاره ښخي اړین کار وو چي پروخت تر سره شوی دی.

**2:** جګړه او سوله :

جګړه او سوله یو شاهکار نړیوال حیثیت لرونکی ناول دی چي دروسي ژبي مشهور لیکوال لیف نیکولایوویچ تولستوی لیکلی او پښتو ژبي ته لیکوال شاعر او ژباړن ښاغلي دوکتور لطیف بهاند ژباړلی او دمومندخپرندویي ټولنې له خوا په ۲۰۱۲م کي دڅلور ټوکو په ښه خپور شوی دی. جګړه او سوله څلورو اړه ټوکه ۲۶۷۳مخونه لري. پښتو ته یې بې ساري او بې جوړې کارونه تر اوسه پوري ترسره کړي دي. تر اوسه پوري یې لاندي ژباړل شوي اثار پښتو ته راژباړلي او دچاپ په ګڼه پسوللي دی.

1 : کلتور پوهنه د فرهنګ تیوري او نظریات ۱۳المریز

2: ناآشنا لیک نارلګوتي ۱۳۷۲المریز

3: دمیني ترانې ،دسوریایي شاعر، نزار قباني سل مینه ناک شعرونه ۱۳۷۷المریز

4: ریالیزم او ضد ریالیزم ۱۳۶۰المریز

5:　اناکارینینا ۲۰۱۶دوه ټوکه

6:　جګړه او سوله ۲۰۱۲م هم دا اثر

پر جګړه او سوله کتاب باندې څېړندیو عبدالغفور لیوال لنډه او جامع سریزه لیکلې او د دې رومان په باب داسې نظر څرګندوي:

" دسولې او جګړې په رومان کې تاریخ ، بشرپېژندنه ،اروا پوهنه هنر او ګروهه سره اغږل شوي دي، د دې ستر رومان نامتو لیکوال غوښتل یو څه و وایي، دخپل بشري چا پیریال العي قدرت ، انساني اختیار او تاریخي پښوېه په اړه یې خپلو تصوراتو ته دفوران لاره لټوله،هغه د همدې لپاره یې تاریخي کرکټوونو ترڅنګ تخیلي کرکټرونه هم رامنځته کړل او دنړۍ د ادبیاتو یو سترشهکارېې ولیکل"-[9]

ښاغلي عبدالغفور لېوال په خپله سریزه کې د دوکتور لطیف بهاند د دې هڅې په باب په لاندېنو ټکو ستاییې او دژباړې پر ارزښت رڼاغیږي.

"نور یې نو وخت دی چې موږ نړۍ ته د ادبیاتوپلونه جوړ کړو ،نړۍ و پيژنو او بیا ځان ورو پيژنو ، د داسې پلونو جوړول لومړۍ هڅه دلویو شهکارونو او نامتو اثارو ژباړل او دخپلو غوره اثار ورژباړل دي. په همداسې نادره او قدروړ هڅو کې یوه دیره ممتازه هڅه د ښاغلي ډاکټر بهاند همدا ژباړه ده، چې زړه ورته په خپل وار سره مبارکي وایم.استاد بهاند په پوره حوصله،دقت او مینه دنړۍ یوسترشهکار راپښتو کړی او څومره چې دخپلې دې ژباړې په اړه ماسره غږیدلی دی، دژباړې په ټول بهیر کې یې د رومان له اتلانو سره ژوند کړی، دژباړې اروایې نړۍ ته ورننوتلی دی، له هغو سره فکر کړی او له ښکلا وو څخه یې خوند اخیستی دی. هغه یوازې مخامخ ژباړه نه ده کړې ، بلکې رومان یې له فکري او معنوي پلوه هضم کړی، ذهن ته یې سپارلی ، پیغام او ارزښتونه یې پیېندلي او دا دی اوس یې موږ ته رالېږدولی دی. د استاد بهاند ژبه روانه او بهانده ده، نوموړي افغان لوستونکي ته ناول صمیمی کړی دی او هڅه یې کړې ده، چې وچه ژباړه پرې ونه زغمي،دهمدې لپاره زیار او هڅه د ډېر قدر او درناوي وړ ده."[10]

د دې کتاب د ژباړې په اړه ښاغلي دوکتور لطیف بهاند په خپله سریزه کې په تفصیل سره رغبېدلی خو زه یې دلته څوځوکرښې رانقلوم چې د دې کتاب ارزښت او د دې ژباړې په اړه بشپړه رڼا اچوي .

"جګړه او سوله یو شاهکار دی دا اثر یوازې په یوه ملت پوري اړه نه لري. هغه دنړۍ لسګونو ژبو ته ژباړل شوی دی. نو ځکه ما وغوښتل چې زما همژبي هم په خپله ژبه ولولي که هغه کټ مټ دهغه د اصلي ژبي یا زیاتره ژباړې داصل خوند ساتلی نه شي دابه هم استثنا نه وي نوځکه وایم ماهم هغه وکړای شول که زما کوم همژبی تجزبه او ټولې هڅې به ورسره مل وي".[11]

دوکتور لطیف بهاند بل ځای داسې لیکي: "دا اثر ما له روسي ژبې ژباړلی دی، خو دفارسي ژبې له هغې ژباړې نه هم ګټه اخستل شوې ده چې محترم سروش حبیبي کړې او پر ۱۳۷۷کال یې په تېران

کي خپره کړې ده. دغه راز په رومان کي داسي اصطلاحات ترکیبونه ، کرښي ، جملې او ګرافونه و چي دپوهېدو لپاره یې ما د جګړې اوسوې دقلم مئنې صحنې کتلي کولای شم ودای‌م چي دا فلم ما په لسکونو واره لیدلی او ځینې صحنې یې تردې هم زیاتي مالیدلي دي."[12]

د کتاب سریزه کي ملګري دوکتور لطیف بهاند دځینو مشهورو اشخاصو نظرونه دټولستوي په باب راوړي دي. چي دځینو خبري دلته راوړم چي ددې کتاب په ارزښت ورڅخه څرګندیږي.

ماګسیم ګور (۱۸۶۷-۱۹۳۶) ددې لیکوال په باب په لنډو ټکو کي داسې کاږي:"دغه انسان په رښتیا یو ستر کار تر سره کړ او دغه کار ته یې په خورا ښکلا او صداقت دیوې پېړۍ تجربه وروبښله "-[13]

سامرست موام ( ۱۸۷۴-۱۹۶۵) چي یو انګریزي لیکوال دی د دې کتاب په اړه داسي وایي:

زه په دې باور یم چي تر اوسه پوري انور دوبالزک ( ۱۷۹۹-۱۸۵۰)دنړۍ ترټولو پېژندل شوی رومان لیکونکی دی خو دا هم وایم چي دتولستوی دجګړې او سولې رومان دنړۍ ترټولو ستر رومان دی-[14]

استرافوف یو روسی لیکوال او کره کتونکی دی د دې کتاب په اړه داسي لیکي:

جګړه او سوله دبشري ژوند یو بشپړ تصویر دی ، دهغې زمانې د روسیې یو بشپړ تصویر دی دهغو ټولو څیزونو او بشپړ تصویر چي په هغو کي خلګ خپله نېکمرغي،پرتم،غم اوخواري پیدا کولای شي،هوکې داجګړه او سوله ده."[15]

مهاتما ګاندي:

مهاتما ګاندي د تولستوي په اړه داسې لیکي:

تولستوی هیڅکله دا هڅه نه ده کړې چي رښتیا پټ کړي هغه بدله کړي هغه پرته له هغه چي له ټولنیز ارمعنوي واک ته وډارشي له هر ډول سازشه پرته په ډاګه رښتیا غوښته "-[16]

جګړه اوسوله پښتو ادب ته راژباړل شوی یوداسې اثردی چي زمادمعلوماتوله مخي به بل داسې یادومره اوږد ناول تر اوسه نه وي راژباړل شوي دژباړن ژبه ډېره خوږه او په زړه پوري ده.ژباړه یې خوندوره په دې ده چي ژباړن پر روسي ژبي ښه برلاسی دی او نه یوازي داکتاب یې پښتو ته را اړولي دی بلکې له روسي څخه یې نور اثار هم پښتو ته راژباړلي دي مایې وړاندې کتابونه ذکر وکړ که له دې کتاب څخه له هرځایه یو اقتباس دنمونې په ډول راوړل شي زما په خیال فرق به نه کوي اوله اقتباس راوړلو څخه ډډه ځکه کوو چي دغه ناول ډېر اوږدهه دی او په څو کرښو راوړلو سره دسړي تنده نه په ماتیږي. هسي خو له روسي ژبي څخه وپښتو ته دژباړل شوو اثار لړۍ ډېره پراخه ده چي دیوې مقالې دروس او توان خبره نه ده چي په کښي ځای شي.که ژوند و فا وکړه پر دغو نورو کتابونو به هم لیکني کومه-

اوس چي په دې لنډه لیکنه کي موږ دلته دکومو درو کتابونو ذکر وکړ چي په روسي ژبه لیکل شوي او بیا له روسي څخه مستقم پښتو ته راژباړل شوي دی. د ژباړي په تاریخ کي ډېر اوچت ځای لري.

له دې علاوه لومړني کتاب دمېړني ولس ادبیات لکه وړاندي چي رڼا ورباندې واچول شوه. زموږ په ادبي اوسیاسي تاریخ کي ډېر څه روښانه کوي اوزموږ ادبي اوسیاسي څېړونکي له ډېرلوی زحمت ژغوري او ژباړل شوی کتاب جګړه اوسوله یو نړیوال شاهکار ناول دی.

چي له ښه مرغه پښتو دیوه منلی شوي لیکوال او ژباړن لخوا ژباړل شوی او په ډېره ایمانداري ژباړي یې پښتني ټولني ته وړاندي کړی دی. په پای کي د اویلای شو چي په پښتو ادب کي دروسي ژباړي ځای او مقام ډېر اوچت دی . دپښتو مینان د داسي اثارو پښتو ته ژباړل شوی کار ستایي.

## حوالې

[1] هېواد مل زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ ، پېښور چاپ نومبر ۲۰۰۰م، مخ۴۲

[2] هوتک، محمد بن داود ، پټه خزانه ، خپروونکی پښتو نړیواله مرکه ،چاپ ۲۰۱۶م کال،مخ۶۵

[3] هېوادمل، زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ ، پېښور چاپ نومبر ۲۰۰۰ م،مخ۴۳

[4] ګ،ف،ګیرس،دمېړني اولس ادبیات/ژباړن،معتمد شینواری،سریزه،دویم چاپ،۲۰۰۸ ،پېښور، مخ۱۰

[5] همدا کتاب، سریزه،دویم چاپ ۲۰۰۸ پېښور،مخ۷

[6] همدا کتاب

[7] ګ، ف، ګیرس، د مېړني اولس ادبیات/ ژباړن، معتمد شینواری،مخ۱۲۱

[8] همدا کتاب،مخ ۱۲۴

[9] تولستوي: لیف نیکولایوویچ، جګړه او سوله، سریزه، لېوال؛ عبدالغفور ،ژباړن، دوکتور عبدالطیف بهاند ، چاپ مومند خپرندویه ټولنه ۲۰۱۲م،مخ۹

[10] همدا کتاب، لېوال؛ عبدالغفور سریزه، مخونه ۱۴، ۱۵

[11] همدا کتاب: سریزه، بهاند ؛ دوکتور عبدالطیف،مخ ۱۶

[12] همدا کتاب،مخ ۱۷

[13] ماکسیم ګورکي، سریزه جګړه او سوله،مخ ۳۹

[14] سامرست مدام، سریزه جګړه او سوله،مخ ۳۹

[15] استراخوف، سریزه جګړه او سوله، مخونه ۳۹، ۴۰

[16] مهاتما ګاندي سریزه جګړه او سوله،مخ ۵۵